مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی

۲۰۲۰/۱۱/۲۹

# غزل

نه راته خپل او نه پردي پاتې شول
خوب او خیالونه ارماني پاتې شول

له ګودرونو سرې لمبې پورته شوې
غمجن، غمجن مازدیګري پاتې شول

نه په شور راغی پسرلی د مینې
نه په ښاپست مئین زلمي پاتې شول

څه به تاریخ باندې ویاړونه وکړو؟
چې نه سړي نه مو پګړي پاتې شول

شمال ترې یوړله تومبلي ګلان
خاورې ایرې يې په ټیکري پاتې شول

وطن چې لوټ شو، نو د ګرمو اوښکو
څاڅکي په مخ د پسرلي پاتې شول

مصطفی پسرلی
2020/11/11



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ